بسم الله الرحمن الرحیم

سر یال نمبر: 182

یووالی، ایمان، انضباط

دملت غږ

# د ټي ټي پي په ضد د امنيتي ادارو لويه بريا
# بنجوړ سوات نه تښتيدلي دوه مطلوب ترهګر نيول شوي

په ۲۴ میئ (پبلک وایس نمبر ۱۸۰)د سوات په بنجوړ سیمه کې د ټي ټي پي ترهګرو په ضد د امنیتي ادارو لخوا د ګډو عملیاتو نه وروسته د دوو مطلوبو ترهګرو د ټپي کیدو پخلی شوی وو۔

**د ټولو وسائلو په استعمال سره د ترهګرو د مسلسل تعقيب په نتيجه کښې د خفيه ادارو او سکيورټي فورسز په ګډو عملياتو کښې نن سحر د علاج لپاره راغلي دوه فراري ترهګر د سهولت کار سره ژوندي د پيښور نه نيولي شوي دي۔**





**د لومړنيو پلټنو له مخې نيول شوو ترهګرو په زياته اندازه وسلې او مهمات راټول کړي وو چې د نيولو په حال کې دي۔ نيول شويو ترهګرو په ملاکنډ و سوات کې د مهمو مشرانو او سياسي مشرانو په نښه کولو پلان درلود۔ د ترهګرو نيول يقيناً د ټي ټي پي لپاره يو لوی ګوزار دی۔**

د بنجوړ اپرېشن نه پس په ځنې حلقو کښې د ترهګرو د ممکنه واپسۍ اوازې وې چې په دغه کامیابه اپریشن کښې د دې اندېښنو لرې کولو سره امنیتي ادارو په ملاکنډ کښې د امن د خرابولو لپاره د ترهګرو هر ډول سازشونه شنډ کړي۔